# په کلاشینکوف باندې د افغاني هیرویینو بدلېدل

**Author:** Sayed Yaqub Ibrahimi

افغان لېږې پروت ولایت اروپا ته د هیرویینو د وړلو او په بدل کې طالبانو او نورو ملېشو ته د وسلو د راوړلو په سترمرکز اوښتی دی. دا سیمه یو لږ څه پراخه ده، خو د پنج د سیند اوبه په کې خوار تېزې بهیږي. دا سیند په تاجیکستان پورې اړوند بدخشان له افغاني بدخشان څخه په طبیعي توګه بېلوي. د سیند دواړو خواو ته د پامیر دنګ غرونه پراته دي. ددې غرونو لوړې څوکې، چې د نړۍ بام یې یادوي، دا سیمه د نړۍ له نور برخو څخه بېلوي.

هغه مهال چې پنځه کاله دمخه دا بازار پرانیستل شو، پولې ته څېرمه د تاجیکستان پرتو خلکو د خوښۍ احساس وکړ، چې اوس به د سیند هغې غاړې ته له خپلو خلکو سره یو ځل بیا اړیکې ټینګې کړي. دا سیمه د پخواني شوروي اتحاد له خوا لسګونه کلونه وړاندې د جګړې او کمزوري اقتصاد له امله له دې سیمې څخه جلا شوې وه.

یوشمېر خلك له دې امله ډېر خوښ و، چې تاجیکستان به خپله پوهه او تخنیك له افغاني ورونو سره شریك کړي.

له هغې راوروسته د پوهې اوتجربو دا راکړه ورکړه دوه اړخیزه شوه، خو نه لکه هغسې چې هیله یې کېده.

د پنج د سیند په سیمې کې په دې ناغوښتلي سرحد کې په خپل سر جوړ شوی بازار د نړۍ په کچه د هیرویینو په وړاندې د وسلو د بدلون په یو ډېر لوی مرکز واوښت.

د مافیا ځایي ډلې د سیند په منځ کې داسې معاملې کوي، چې له لارې یې د افغاانستان په سویل کې طالب جنګیالي، القاعده او همدارنګه په پراخې سیمې کې د ملېشو نورې ډلې وسله والې کیږي. په روسیې کې د جوړو شوو وسلو په بدل کې افغاني هیرویین تبادله کیږي، چې ښایي د اروپایي هېوادونو په لارو کوڅو کې پلورلو ته وړاندې شي.

د ګډ بازار په نوم مشهور شوی دا ځای په څه ناخه ۲۰۰۰ متره مربع ځمکه کې پروت دی او شاوخوا ترې سمنټي دیوالونه راتاو شوي دي.

سرحدي پولیس سیمې ته د خلکوتګ راتګ کنترولوي. یو لوري ته تاجیك افسران او بل لوري ته افغاني افسران پراته دي.

د بازار دننه ځایي سوداګر د خرڅولو توکي په لاسي اوبدلوغالیو باندې ږدي. له تاجیکستان څخه خوراکي توکي، لکه وچ توتان، مېې اوبادام او د افغاني سوداګرانو له لوري د امونو کینو او مالټو په څېر له پاکستان څخه زیاتره راغلې نااشنا مېوې د خرڅلاو لپاره ایښوول کیږي.

پېږې اوبدل شوي پامیري رنګه جرابې، چې ځایي خلك یې په ژمې کې په لاسوي، له ارزان بیه جامو سره تبادله کیږي. البته په بیو کې د چنووهل یوه معمولي خبره ده.

خو اصلي او حقیقي راکړه ورکړه د پردو تر شا تر سره کیږي. قاچاق وړونکي له شمالي لوري څخه ګران بیه غمي او وسلې راوړي او له افغاني لوړ کیفیته هیروینو سره یې تبادله کوي.

د محمد اسلم (مستعار نوم) په نوم د یو افغاان سوداګر د وینا له مخې کاروبار مخ په غوړېدو دی.

هغه آی ډبلیو پي آر ته وویل: ((په دې ورځو کې زما عایدات دوه برابره شوي دي. له یوې خوا دهیرویینو (د خرڅلاو) له لار پیسې ګټو او له بلې خوا افغانستان ته وسلې وړو او د سویل په قاچاق وړوکو باندې یې په لوړه بیه پلورو.))

دا بازار د کتنو لیدنو مرکز دی. دلته یو له بل سره اړیکې نیول کیږي او معاملې سرته رسیږي. خو شیان او توکي هلته نه زېرمه کیږي. محمد اسلم وایي قاچاق وړونکي د خپلو توکو نمونې راوړي او وروسته یې په بیې او اندازې باندې یوې پریکړې ته ر سیږي.

هغه وویل: ((کله چې په معاملې روغه جوړه وشوه، نو یو ځو روپۍ د پېشکۍ په توګه ورکول کیږي او د پاتې توکو د تبادلې لپاره ټاکلی وخت اوځای په نښه کیږي.))

د قاچاق وړونکي د وینا له مخې بیې څه ناڅه ثابتې او سټندرد وي.

هغه وویل: ((اتوماتیکې وسلې، چې روسان یې راوړي زیاتره کله کوف وي، چې د کلاشینکوف په پرتله ګران بیه دي.))

کله کوف د کلاشینکوف وروستی موډل دی، لکه AK-74 چې د زړې AK-47 په پرتله زیاته بیه لري.

هغه وویل: ((مور یو کیلوګرام هیرویین د لسو کله کوفو او یا ۱۵ (زاړه مودل) په وړاندې تبادله کوو. له هغې وروسته یې د نغدو پیسو یا هیرویینو په وړاندې له کندهار یا هلمند څخه په راغلو قاچاق وړونکو پلورو.))

څنګه چې یاغیان د وسلو په وړاندې ډیر ډالر ورکوي، نو له دې امله سوداګر په دې کار کې ښه ګټه کوي.

هغه دوام ورکړ: ((په داسې حال کې چې مور یو کیلو ګرام هیرویین د لسو کله کوفوو په وړاندې تبادله کوو، طالبان راته د پنځو شپږو ټوپکونو په وړاندې یو ګیلو ګرام هیرویین راکوي. (په دې کار کې) هرڅوك ګټه کوي.))

ټوپکونه د اسانه لیږدونې لپاره پرزه، پرزه راوړل کیږي.

محمد اسلم وویل: ((هغه پرزه، پرزه راوړل کیږي او په همدې ډول یې مور افغانستان ته وړو. کله چې یو کلاشینکوف د بدخشان مرکز، فیض آباد ته ورسولای شو، نو د ۲۰۰ ډالرو په وړاندې یې پلورو، خو همدا وسله په جلال آباد کې په سلو کې پنځوس زیاته بیه کوي.))

وسله د هیرویینو په وړاندې له خطرڅخه ډك یو کسب دی.

هغه وویل: ((د زیاتې اندازې هیرویینو او زیات شمېر وسلو د تبادلې ځای تل پټ او محرم وي. که معامله ډېره غټه وي، نو د خپل امنیت لپاره زیات شمېر وسله وال له ځان سره وړو. بیا خپل مالونه په خرو او کچرو باندې لیږدوو.))

لاره هغومره له ستونزو ډکه وي، چې یوازې کوچني او چټك څاروي دغرونو څوکو ته په ډېرو کوچنیو اونریو لارو تګ راتګ کولای شي.

قاچاق وړونکي د پولیسو او د قانون د نورو پلي کوونکو چارواکو پروا نه لري.

د محمد اسلم تیر تاریخ د اقغانستان د زیات شمېر وسله والو ملېشو په ډلې کې له (جنګ سالار) څخه هغومره کم نه و. هغه یو څه سودمن اړیکي لا تر اوسه ساتلي دي.

هغه وویل: ((موږ په سیمې کې وسله وال ملاتړي لرو، چې هغوی بیا په خپل وار د یو شمېر چارواکو تر تخرګ لاندې دي. همداشان موږ په حکومت کې زاړه ملګري لرو. هرڅوك خپله، خپله برخه تر ګوتو کوي.))

وسلې د هېواد سویل ته مخه کوي، خو ټولې یوازې طالبانو ته نه ورکول کیږي.

د محمد اسلم تر څنګ د میرعلم په نوم یو سړی ولاړ و. هغه په ختیځ کې د ننګرهار ولایت له سره رود څخه راغلی و. هغه د وسلو یو بار موټر ته پورته کړ او غوښتل یي لږه شېبه وروسته په یو روسي موټر کې سویل ته ولاړ شي.

هغه وویل : ((زه د یو ښه سوداګر په لټه کې یم. هرڅوك چې وي، وي به. موږ ته توپیر نه کوي. زیاتره طالبان ښه مشتریان دي. خو موږ دا وسلې په پاکستان کې د لنډي کوتل مارکیټ ته هم استوو او هلته یي په نړیوالو قاچاق وړنکو پلورو.))

له لنډي کوتل څخه، چې د خیبر د لویې لارې په لوړه کې پروت دی، بیا دا وسلې د نړۍ د ټولو رادیکالو ډلو لاسونو ته رسیږي. میرعلم داسې وویل: ((لنډی کوتل په سیمې کې د وسلو تر ټولو لوی مارکیټ دی. مجاهدین او القاعده وسلې د فلسطین، کشمیر او د جګړو نورو لیکو ته استوي.))

د هر ډول نور کاروبار په څېر تقاضا د بیو په ټاکنو کې رول لري.

میرعلم وویل: ((کله چې عربان پاکستان ته راشي، نو بیې لوړیږي.))

د بیو لوړېدل او پورته کېدل او نوسان چې هر څومره وي، خو دا کاروبار خورا ګټه لري. څرنګه چې وسلو ته ډېره تقاضا شته، نو له دې امله د نشه یي توکو له خرڅلاو څخه ډېر ښه دی.

میرعلم وویل: ((له هیروینو سره د وسلو د تبادلې له لارې تر هغې زیاته ګټه لاسته راځي، چې موږ یي مازې د هیروینو د پلورلو له لارې تر لاسه کوو. هر ځلې چې وسلې د هیروینو په وړاندې تبادله کیږي، نو دواړه لوري له وسلو او هیروینو څخه ګټه تر لاسه کوي. دا یو ښه کاروبار دی. ماته داسې خلك معلوم دي، چې ددې تجارت له لارې یي په دوبی او عربي هېوادونو کې لوکسې ماڼۍ او ځایونه جوړ کړي دي.))

ډېره ګټه د هغه لوړپوړو چارواکو لاس ته ورځي، چې د حمایت چارې تر سره کوي. هغه وویل: ((لوی قاچاق وړونکي په افغانستان، پاکستان او منځنۍ اسیا کې د حکومتي چارواکو تر حمایت لاندې دي. دا قاچاق وړونکي زیاتې پیسې ورکولی شي. خوموږ هم تر هغوی کم نه یو.))

د پولې بلې غاړې ته هیرویین تاجیکستان او له هغه ځای څخه د روسیې د منځنۍ اسیا هېوادونو او اروپایي بازارونو ته قاچاق کیږي. دا سوداګري د لارې په اوږدو کې ډېره ګټه کوي، خو هغه خلك یي چې د افغان – تاجیکستان له پولو اړوي، هغومره نه ګټي.

یو تاجیکي قاچاق وړونکي وویل: ((موږ ته هغومره ګټه په لاس نه راځي. زموږ دنده له پولې څخه دې خوا ته د هیروینو د کڅوړو اړول دي. بیا د روسیې مافیایي ډلې راځي، چې زیاتره یي د پولیسو موټرې لري. هغوی له موږ څخه هیرویین اخلي اوټوپکې راکوي او بیا وروسته یي اروپا ته لیږدوي.))

نوموړي زیاته کړه: ((په ټوله لاره کې موږ بډې ورکوو. روسان یي هم ورکوي، خو هغوی دا بډې لوړ پوړو چارواکو ته ورکوي. د بډو نه

ورکول ناشونی کار دی.))

په تېرو کلونو کې زیاتره په بدخشان کې کوکنارکرل کېدل، پروسس کېدل اود هیرویینو خام توکي او خپل اپین یي بهر ته لېږرولو. اوس د هېواد په سویل، په تېره بیا په هلمند کې د کوکنارو د کرکیلې د زیاتوالي او په بدخشان کې د بریالي کمپاین له امله دا ولایت د نورو ولایتونو په پرتله له کوکنارو څخه پاك دی.

د بدخشان د ولایت د اشکاشم د ولسوال یو اوسیدونکې د نوم د نه څرګندولو په شرط د لیدونکو ډله له خاماپینو څخه د هیرویینو د جوړولو د پروسس ځای ته یوړل.

هغه وویل: ((له دریو کلونو راهیسې د هیرویینو د جوړولو یوه کوچنی لابراتوار لرم. مور او پلار او ورونه مې د هغې په قاچاق کې ښکېل دي. هغوی له دې لارې زیاتې پیسې لاس ته راوړي.))

نوموړی لابراتوار په ډېر ساده ډول تر ځمکې لاندې په یوې خونې کې جوړ شوی دی. په هغې کې شپږ بېرلونه، د پرېمنځلو یوڅو لوښي، د ځېښلو ماشین او د اپینو کڅوړې لري.

هغه وویل: ((لومړی له اتلسو څخه تر ۳۶ کیلو پورې اپین په هر بېرل کې اچول کیږي او تر دوو یا دریو ورځو پورې په اوبو کې ایشول کیږي. له هغې وروسته لاس ته راغلې خمیره ځېښل کیږي اوتر لمر لاندې وچه او د خاصو تېزابو په زیاتولو په سپینو پوډرو اوړي.))

د نشه یي توکو د یو قاچاق وړونکي د وینا له مخې یو کیلو اپین له ۲۰۰ څخه تر ۳۰۰ ډالرو پورې بیه لري. د یو کیلو هیرویینو د جوړولو لپاره له پنځو څخه تر اوو کیلو پورې خام اپین په کاریږي. دا هیرویین بیا د پنج د سیند په بازار کې تر دوو زرو ډالرو پورې خرڅیږي. هغه مهال چې سم سوتره د تاجیکستان له پولو واړوي، نو بیه یي تر پنځو زرو ډالرو پورې رسیږي.

د اروپا او د متحده ایالتونو په کوڅو کې د هغې بیه بې خړته لوړیږي.

د بدخشان والي برالا وایي، چې په بدخشان کې یي د نشه یي توکو د پروسس او قاچاق په بندولو وسه نه رسیږي. ددې غرني ولایت زیاتره برخې لیرې پرتې او رسېدل ورته ګران دي. او په یوې بېرنګه بیروکراس کې راکښېل دی. له دې امله د هغې د مخې ډېب کولو خبره ګرانه بریښي.

د بدخشان والي، عبدالمجید وویل: ((څنګه چې سرحد په مستقیمه توګه د کورنیو چارو د وزارت له خوا اداره کیږي، زه د کوم مسؤولیت احساس نه کوم. بدخشان د پوځي کلا په څېر دی. زه د هغې د دروازې په ساتونکو کوم کنترول نه لرم.))

نوموړي والي وکړای شول، چې په ۲۰۰۷ کال کې په هغه ولایت کې د کوکنارو کرکېله په سلو کې ۷۲ ته راټیته کړي. بدخشان یي د اپین د ستر تولیدونکي ولایت څخه له کوکنارو څخه د یو پاك ولایت په توګه اعلان کړ.

خو عبدالمجید نشي کولای چې د قاچاق په سوداګر غاښ ولګوي. هغه په بدخشان کې د هیرویینو د لابراتونو شتون مني.

د هغه ولایت د والي د وینا له مخې تر هغه چې اداري سیستم بدل شوی نه وي او سرحدي پولیس د هغه تر لاس لاندې نه وي راغلي، د قاچاق په لارو باندې د ګزمو کولو وسه نه لري.

هغه زیاته کړه، لابراتورونه په لیرې پرتو سیمو کې فعال دي او د پولیسو لاس ورته رسېدلای نه شي.

هغه وويل: ((بدخشان هغومره غرنی ولايت دی، چې په ځينو ځايونو کې خلك سرك ته د رسېدلو لپاره دوه، درې ورځې لاره وهي. دا لابراتوارونه يو دايمي جوړښت نه لري. هغه يو ځو ښېرله او د پرېمنځلو يو ځو لوښي لري. که پوليسو ته د هغې په باره کې خبر ورسيږي، نو په اسانۍ بل ځای ته لېږدول کېدای شي. له دې امله يې کنترول ستونزمن دی.))

د سرحدي پوليسو قوماندان، جنرال عبدالرحمن رحمن په شمال کې د منظمو جنايتونو د مخ په زياتېدو پخلی کوي. هغه وويل، چارواکي هڅه کوي، چې د پوليسو د روزنې او سمبالولو له لارې دا ستونزه له منځه يوسي.

هغه په مزارشريف کې اخباروالاوو ته وويل: ((په داسې حال کې چې ترهګري په سويل کې يوه ستره ننګونه ده، د سيمه ييزې او نړيوالې مافيا شتون په شمال کې يوه بله ستره ننګونه ده. د ځايي ملېشو قوماندانان د ستونزې يو بل ډول دی. هغوی په شمال کې ددې مافيا ملاتړ او ننګه کوي.))

هغه ددې پخلی وکړ، چې پوليس نه شي کولای د نشه يي توکو له ستونزې سره مقابله وکړي، خو د وضعې په ښه کېدو يې ټينګار وکړ.

هغه وويل: ((زمونږ پوليس روزنه تر لاسه کوي او سمباليږي. مونږ به په راتلونکي کې ددې وضعې مخه ونيسو.))

په پولې کې مېشت تاجيك پوليس ددې خبرې منلو ته چمتو نه و.

د مارکيټ دروازې ته ولاړ يو تاجيك پوليس افسر د قاچاق له شتون څخه کورټ سترګې پټې کړې.

هغه آی ډبليو پي آرته وويل: ((دلته څوك ناقانونه کار نشي کولای. تاسې ته هرڅوك ښکاري. هغوی له خوړو، جامو او ميوو پرته د بل څېز تبادله نه کوي. مونږ دلته د بازار د امنيت د ساتلو لپاره ولاړ يو، ترڅو خلك په کرار چاپېريال کې خپل کارونه سرته ورسوي. مونږ غواړو د تاجيکي او افغاني ورونو تر منځ وروزګلوي ټينګه کړو.))

قاچاق وړونکي وايي هيڅ داسې نه بريښي، چې سيمه ييز حکومت دې د هيروينو او ټوپکو لېږد رالېږد بند کړای شي . د هغې اندازه او ګټه ډېره زياته ده.

محمد اسلم وويل: ((وسلې خپله لاره عربي هېوادونه ته وباسي او هېروين اروپايي هېوادونو ته. په دې توګه ټوله نړۍ په دې سوداګرۍ کې ښکېل ده. ځايي حکومت په دې پوهيږي، چې د هغې مخه نه شي نيولی. له دې امله خپله برخه اخلي. مونږ هم همداسې درواخله.))

: ((هغه خلك چې وسلې اخلي د کوکنارو له کرکېلې سره مرسته کوي. دا هرڅه د يو ټړون له مخې کيږي. کارونه ورځ په ورځ مخ په ښه کېدو دي.))

**Location:** Central Asia
Palestine
Uzbekistan
Turkmenistan

---

**Source URL:** https://iwpr.net/ps/global-voices/ph-klshynkwf-bnd-d-fgny-hyrwyynw-bdldl